عزت‌الله ادیب ۲۰۲۳/۱۲/۳۰

په متن کې د هاروارډ سیستم د حوالې یا ریفرنس لیکلو لارې چارې

په فیسبوک کې مې د حوالې یا ریفرنس په اړه یوه لیکنه ولوسته، بیا مې یې د کمنټونو په برخه کې د مختلفو لیکوالانو نظریات ولوستل؛ خو هلته ځینې ملګرو مختلفې طریقې سره مکس کړې وې. له دې امله غواړم چې په دې اړه لنډ مالومات ولیکم؛ ځکه د حوالې یا ریفرنس په برخه کې د هاروارډ، اکسفورډ، ایم اېل اې، اې پې اې او شیکاګو په شمول نور سیستمونه هم کارول کیږي، چې مشهور یې همدا دي.
له پورته لېست څخه په متن کې د هاروارډ د سیستم او طریقو په اړه دا مقاله لیکم؛ ځکه دا سیستم زیات کارول کیږي او په افغانستان کې هم ډېر رایج دی. د هارورډ ستایل د حواله ورکولو په سیستم کې د متن حوالې په قوسونو/پرنتز کې لیکل کیږي. په دې لیکنه کې د هاروارډ سیستم له مخې د حوالو جوړښت، څرنګوالی، توضحیاتو او مثالونو تشریح کوم.

په قوس/ونو کې حوالې
کله چې تاسو په خپل اکاډیمیک متن کې د نورو خلکو نظریو ته اشاره یا مراجعه کوئ؛ نو د هغو ټولو نظریو یا منابعو ماخذ په واضح او پوره تفصیل سره ولیکئ. په علمي لیکنو کې اقتباس یا استناد ټولو هغه مقالو، کتابونو، راپورونو یا منابعو ته له مراجعه کولو څخه عبارت ده چې تاسو په خپل متن کې کارولي دي. په دې برخه کې به ان خپلو لیکنو یا کتابونو ته هم بشپړه حواله لیکئ؛ یانې که تاسو نوې مقاله یا کتاب لیکئ او د خپل تیر کتاب یا مقالې څخه په استناد کوم څه پکې ذکر کوئ، نو مجبور یاست چې د تیرې مقالې پوره حواله ورکړی. که چېرته دا کار ونکړئ، شخصي ادبي غلا مو کړې ده چې دا کار هم منع دی.
د هاروارډ د سیستم له مخې د متن په داخل کې ټولې حوالې د پرانتز یا قوسونو په منځ کې لیکل کیږي. په دې برخه کې د لیکوال کورنی نوم، د خپریدو کال او د صفحې نمبر لیکل کیږي. خو د خپلې مقالې په اخر کې ټول ماخذونه یا منابع د حروفو یا الف ب په ترتیب سره لیکل کیږي، او دې برخې ته په انګلیسي کې (Bibliography) ویل کیږي.
د هارورډ په سیستم له مخې په متن کې د حواله ورکولو لپاره، د لیکوال د نوم له ذکر کولو سره، دوه مختلفې لارې کارول کیږي:

- لیکوال (د خپریدو نېټه، د صفحې شمېره)

کله چې د یو اکاډیمیک متن یا تیوري لنډیز لیکئ، تاسو کولی شئ چې د مرجع یا ماخذ د لیکوال نوم په خپل متن کې ذکر کړی، له هغه وروسته د سرچینې د خپریدو کال او د پاڼې شمېره په قوسونو کې د لیکوال له نوم څخه سمدستي وروسته لیکل کیږي.

د مثال په ډول: د ادیب (۲۰۲۳، ۲۶۴) پر اساس، د کیفي ډاټا راټولولو میتودونه په لاندې ډول دي...
دلته مو ولیدل چې د لیکوال نوم په متن کې یاد شوی دی او د منبع د خپراوي کال او د پاڼې/صفحې شمېره په قوسونو کې لیکل شوې ده.

- (لیکوال، د خپرېدو نېټه، د صفحې شمېره).

که غواړی چې د یو متن یا تیوري د لنډیز د لیکلو پر مهال د لیکوال نوم په خپل متن کې ذکر نه کړی؛ نو په دې ډول کې د لیکوال کورنی نوم/تخلص، د منبع د خپراوي کال او د صفحې نمبر په قوسونو کې لیکل کیږي. حواله مو د متن څخه سمدستي وروسته او د نقطې نه مخکې ولیکئ.

د مثال په ډول: د کیفي ډاټا د راټولولو په برخه کې د ژوري مرکې او فوکس ګروپ نوم ډېر یادول کیږي چې په دې ډول تحقیق کې دا میتود تر ٪۹۰ کارول کیږي؛ خو په دې برخه کې نور میتودونه هم شته چې په دې ډول څېړنو کې کارول کیږي (ادیب، ۲۰۲۳، ۲۶۴).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې مثال کې مو ولیدل چې د لیکوال نوم په متن کې ذکر شوی نه دی، بلکه په پرنتز کې د خپراوي له کال او د منبع د پاڼې له شمېرې سره یو ځای لیکل شوی دی.
اوس دلته د ځینې حوالو مختلف ډولونه ذکر کوو، چې په هغه کې د یو لیکوال، دوو لیکوالانو، ګڼو لیکوالانو، ویب سایټ، د کتاب یو باب، په یو کال کې د یو لیکوال مختلف منابع، او.... د ماخذ لیکلو لارې چارې شاملې دي.

1. هغه منبع چې یوازې یو لیکوال ولري:

لکه په پورته برخه کې مو چې اشاره ورته وکړه، د لیکوال نوم په متن کې هم لیکل کېدای شي، او له متن څخه د باندې هم اشاره ورته کیږي. په لاندې مثال کې دواړو طریقو ته اشاره کوو:
اول: د اروپایي اتحادیې جوړښت په دریو پایو/ستنو کې ښوودل شوی دی چې لومړی پایه یې تر ټولو لویه ده (تالبري ۲۰۰۴،۶۵).
دوهم: په دې ډول کې مستقیم سرچینې ته اشاره کیږي او د منبع یا لیکوال په یادولو سره متن پیل کیږي. تالبري (۲۰۰۴، ۶۵) د اروپایي اتحادیې جوړښت په دریپایز شکل ښوودلی دی چې لومړی پایه یې تر نورو هغو لویه ده.

2. هغه منبع چې دوه یا درې لیکوالان ولري:
(فوسوم، سکانتز، کاتزیف ۱۹۹۷، ۳۱-۲۵)
یا
فوسوم، سکانتز، او کاتزیف (۱۹۹۷، ۳۱-۲۵) وایي چې....

دلته هم ټول لیکوالان په دوو ډولونو لیکل کیږي، یانې د متن په داخل کې او یا له متن څخه د باندې. اکثر خلک دوه یا درې نومونه لري، نو په دې ډول مآخذښوودنه کې یې یوازې یو نوم لیکل غوره دي.

3. هغه منبع چې څلور یا ډېر لیکوالان ولري:
که چېرته کومه منبع څلور او یا زیات لیکوالان ولري، هلته یوازې د اول لیکوال نوم ذکر کیږي او نور د (او ملګري / et al) په شکل ښوودل کیږي. یانې د نورو همکارانو نومونه یې نه لیکل کیږي؛ یوازې اشاره ورته کیږي. د مثال په ډول:
(جوهانسن او همکاران، ۲۰۰۱، ۲۲۶)
یا
جوهانسن او ملګري. (۲۰۰۱،۲۲۶) تایدوي چې.....

4. د کتاب څپرکی یا فصل:
په علمي دنیا کې ځینې کتابونه د څو لیکوالانو لخوا لیکل شوي وي، او یا یې یو لیکوال یا څو لیکوالانو د بل لیکوال د کتاب لپاره یو یا څو څپرکي لیکلي وي. نوموړي لیکوالان د کتاب دا څپرکي یوازې هم خپروي او د کتاب څپرکی یې بولي، چې دا هم د معتبرې اکاډیمیکې منبع په شکل کارول کیدای شي. په متن کې د حوالې لپاره یوازې د څپرکي د لیکوال اخري نوم/تخلص، د خپرېدو کال او د مخونو شمېر لیکل کیږي. او د ریفرنس لیست کې باید داسې یادونه وشي چې منبع د کتاب یو فصل یا څپرکی دی، ټول کتاب نه دی.

5. ویب سایټ
په متن کې د ویب سایټ د حوالې کارول هم لکه د نورو حوالو په ډول کارول کیږي. د لیکوال نوم، د خپرېدو نیټه او که ممکنه وي د پاڼې مخ ذکر کړی. په ډېرو ویب سایټونو کې د پاڼې شمېره نه وي ذکر شوي، یا نه لیکل کیږي؛ نو که شمېره نه وي هیڅ یې مه لیکئ. همدا ډول، په ډېرو ویبسایټونو کې د لیکوال نوم نه وي ذکر شوی؛ نو په دې صورت کې له تجارتي نوم څخه کار اخیستل کیږي. لکه د شرکت یا تجارت نوم. د مثال په ډول:
(اپل ۲۰۲۳)
یا
د اپل (۲۰۲۳) مالوماتو پر بنسټ، په ۲۰۲۴ کال کې به.....

همدا ډول، ځینې منابع مشخص لیکوال نلري او په یو جورنال کې نشر شوي وي، نو په دې صورت کې د مقالې عنوان د خپراوي د کال سره د حوالې په ډول کارول کیږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

6. هغه منبع چې د خپرېدو کال نلري:
ځيني داسې مقالې يا منبع شته چې د خپرېدو کار نلري؛ نو هغه د ليکوال نوم، **نيټه نلري**، او د پاڼې شمېرې سره ليکل کيږي. د دې لپاره په انګليسي کې د N,D. ډول کارول کيږي.: د مثال په ډول؛
(جانسن، نيټه نلري.، ۱۵).
(Johnson n.d., 15).

7. هغه منبع چې د پاڼې شمېره نلري:
که چېرته کوم کتاب، د جورنال مقاله، راپور او... د پاڼې شمېره نلري؛ نو پر ځای يې د څپرکي نوم او پراګراف ذکر کړی. د مثال په ډول:
(سمېت ۲۰۱۸، معرفي، پراګراف. ۳)
پورته مثال کې د سمېت کتاب چې په ۲۰۱۸ کې خپور شوی دی، د معرفي څپرکي کې ۳م پراګراف د منبع په شکل ياد شوی دی.

8. د متن په داخل کې لنډيزونه او مخفف د حوالې په شکل کارول:
کله چې تاسو په خپل متن کې د يوې مشهورې ادارې يا نهاد نوم ليکئ؛ نو هغه بشپړ وليکئ او ورپسې يې لنډيز يا مخفف په مربع قوسونو کې وليکئ. د مثال په ډول:
(د اقتصادي همکارويو او پرمختګ اداره [او اي سي ډي] ۲۰۱۰،۸۹)

د همدې مرجع د تکرار په صورت کې يوازې لنډيز يا مخفف ليکل کيږي، او پوره نوم ليکلو ته يې اړتيا ضرورت نه وي. لکه په لاندې مثال کې:
(او اي سي ډي ۲۰۱۰،۹۶).

9. په يو کال کې د يو مشخص ليکوال مختلف منابع
که چېرته يو ليکوال په يو کال کې متعدد منابع ليکلي او خپاره کړي وي، د هغوی حواله ورکول تقريبا يو ډول ليکل کيږي، خو يوازې د [کال] څخه وروسته د الف ب په تورو مشخص کيږي چې کوم يې لومړی او کوم يې دوهم هغه دی. د مثال په ډول:

لومړيو موندنو د څېړنې يا تحقيق فرضيه ثابته کړه (مری هين ۲۰۱۵ الف، ۱۶۴-۱۶۰). خو وروستيو څېړنو عين فرضيه منفي وښوودله (مری هين ۲۰۱۵ب، ۴۴-۴۰).
که پورته مثال ته وکتل شي، نو په څرګند ډول مالوميږي چې د نوموړي ليکوال دوه څېړنيز راپورونه په يو کال (۲۰۱۵) کې خپاره شوي دي او دواړه له کال څخه وروسته د الف او ب په شکل ښوودل يا بېل شوي دي.

10. د يوې مشخصې نظريې لپاره د متعددو منابعو کارول:
که چېرته تاسو د يوې مشخصې نظريې لپاره د متعددو يا څو منابعو حواله ورکوئ؛ نو ټول يو ځای د حروفو په تسلسل ذکر کړی او يو له بل څخه د ويرګول يا سيميکولن پر مټ بېل يا جدا کړئ. د مثال په ډول:

څېړنې (جونسن اوو ويلسن ۲۰۱۹،۱۴؛ سمېت ۲۰۱۶، ۳۸؛ مری هين ۲۰۱۲،۳۳) ثابتوي چې....

په پورته مثال کې مختلفې څېړنې د متن په داخل کې داسې ذکر شوې دي چې يو له بلې څخه د ويرګول پر مټ بېلې شوې دي؛ خو متعددې منابع په يوه حواله کې د يوې نظريې لپاره ذکر شوې دي.
همدا ډول د ويډيو او غږيز کليپ لپاره هم په متن کې د حوالې ورکولو لپاره د هغه مشخص فايل د نيټې، وخت او مشخصه دقيقه او ثانيې څخه کار اخيستل کيږي. که چېرته کوم ويډيويي لکچر ډېر اوږد وي، په هغه صورت کې يې برخه سره له دقيقو او ثانيو ذکر کول لازمي دي.
دا پورته لنډ مالومات د هاروارډ سيستم له نظره په متن کې د حوالې کارولو په اړه له مختلفو منابعو څخه راټول شوي دي چې ډېره برخه يې د اوميو پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د محصلينو او څېړونکو له موادو څخه را اخيستل شوي دي.

نور بيا...

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ